شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(۸) صفحه

شمارۀ مسلسل (۵۵٤) سال پانزدهم ،شمارۀ (۱۰۰) یکشنبه (۱۰)عقرب ۱۳۷۱ هـ.ش- (٦)جمادي الاول ۱٤۱۳ هـ.ق- اول نومبر۱۹۹۲م

بیه:یوه روپي یا (۳۰) افغاني

هندي عسکرو (۱۳) مجاهدین نیولي دي

نوي ډیلي : دلرم ۸ نیټه

دنیول شوي کشمیر واکمن وایي چي دعسکرو سره په نښتوکي ٤ تنه مجاهدین وژل شویدي دکشمیر دپولیسو مشروویل چي دپرونیو عملیاتو په لړکي دکشمیر په بیلابیلو برخوکي ۱۳ کسه مجاهدین ژوندي نیول شویدي . دغه وروستني نښتي دهند دحاکم کانګرس ګوند غړواودهند دپارلمان دنمایندګانو دیوهیئت دسفردپاي سره مصادفي وي چي غوښتل یي دکشمیري مجاهدینو دکمپاوند پوري مربوطوتشدد اغیزي وڅیري . دهوي دسفرپه وخت کي اعتصابونه اواعتراضونه روان وو چي دپولیسو اوامنیتي ځواکونو دزورزیاتي په باب ادعاګاني څرګندي کړي. دپارلمان نوموړي وکیلان به خپل معلومات دهند صدراعظم ناراسیماراوته وړاندي کړي.

په نوروخبرونوکي ویل کیږي چي مجاهدینو په ګنوځایونوکي په هندي پرغلګروحملي کړي او په سل ګونو هندي عسکري وژلي دي.

یلتسن جبههٔ نجات ملي را منحل وغیر قانوني اعلان کرد

مسکو - ۸ عقرب .

بوریس یلتسن رئیس جمهورروسیه میگویدباسایر رهبران روسیه به نقاط مختلف آنکشور سفر خواهد کرد تاموضوع اجلاس کنگرۀ نمایندگان خلق رادر ماه دسمبرآینده بامردم روسیه درمیان بگذارد.

وي که همراه خبرنگاران صحبت میکرد گفت:اجلاس این کنگره مطلقاً امري زایدالوصف است. وي امیدواراست توجه مردم رادرین زمینه جلب کند . یلتسن ضمناً ازانحلال گروه سیاسي جبههٔ نجات ملي دفاع کرد وآن جبهه راکه از اتحاد کمونست ها وملي گرایان بوجود آمده است متهم کرد که میخواهد دولت راباستفاده ازوسایل مغایرقانون اساسي ساقط کند.

وي امکان تصمیم گیري فردي به عنوان رئیس جمهور روسیه را ردنکرد وگفت تعهدات خودرا درقبال مردم روسیه مهمترو والاازسوگند خود براي حفظ قانون اساسي‌میداند.

داستادرباني دریاست موده د ٤٥ ورځولپاره نوره اوږده شوه

● حضرت صبغت الله مجددي له غونډي څخه احتجاجاً ووت

انا- دلرم ۹ :

له کابل څخه ترپوالوآژانسونو اوکابل راډیوخبرورکړي چي دتېرلو توقعاتواودپېښوردمعاهدي په خلاف قیادي شوري په غونډه کي استادرباني دریاست موده د٤٥ ورځولپاره نوره هم اوږده شوه، په شوري کي دایریکړه وشوه، چي رباني به په دغه موده کي داهل حل وعقد شوري دایروي ، خوکه په دغه موده کي دغه شوري بیاهم دایره نه شوه نوبیابه بل مشرټاکل کیږي .

خبري آژانسونو داهم ویلي چي په شوري کي دقوي ګوندونومشرانواونمایندګانو درباني دبیاریاست مخالفت کړیدي خودوروګوندونودرایوپه اکثریت دهغه موده تمدیدشویده دپېښوردمعاهدي په اساس پکارداوه چي رباني دتېري پنجشنبي په ورځ له کاره ګوښه شي، هغه ته داوظیفه ورکړه شوي وه چي باید په څلورومیاشتو کي داهل حل وعقد شوري جوړه کړي ترڅوعبوري حکومت وټاکي، ولي هغه دمعاهدي پرخلاف دغه کاروته کړاوبیاهم توقع نه کیږي چي دي به په ٤٥ ورځوکي شوري وټاکلي شي . دمولوي صاحب خالص مرستیال حاجي دین محمدهم دي ټکي ته اشاره وکړه وویل مورفکرنه کووچي رباني دي داکاروکولاي شي ، هغه داهم خرګنده کړه چي له دي امله چي رباني پخپل سراودپېښوردمعاهدي په خلاف شیعه ډلوته په قیادي شوري کي برخه ورکړه نوزموږ حزب ددغه شوري غونډي تحریم کړي .

دیوبل خبرله مخي له کابل څخه دیوي عربي مجلي خبریال احمد زیدان خبرورکړي چي دملي نجات جبهي مشرحضرت صاحب صبغت الله مجددي احتجاجاً له دغي غونډي نه ووتلو اوڅرګنده یي کړه چي داهرڅه داصولوخلاف دي اوږه دحکومت دفعلي ساختمان اوکارروایي سره کاملاً مخالف یم اوپه دغه فعلي شکل حکومت به نوري ستونزي هم راپیداکړي .

په دغه غونډه کي دحزب اسلامي دامیروروحکمتیار په نمایندګي دحزب اسلامي دمالي چارورئیس عبدالهادي ارغندیوال برخه اخستي وه .

مسؤل درگیري بین حزب وحدت وحزب اسلامي افراد شوراي نظاروملیشه هااند

کابل ۸ عقرب :

جنگ شدیدي بین مجاهدین حزب اسلامي وهواداران حزب وحدت درقسمت غرب شهرکابل رخداد .

آژانس خبري افغان گزارش میدهددرگیري بین طرفین دردشت برچي ونواحي آن صورت گرفت که مدت چهارساعت جریان داشت .

احمد زیدان خبرنگار روزنامه عربي زبان « الحیاة» باعبدالعلي مزاري سخنگوي حزب وحدت مصاحبه نموده وي اظهارداشته جنگ را کساني آغازکرده اندکه نمیخواهندصلح درکابل تأمین شود.

وي ادامه داده گفت : افرادي مجاهدین این دوتنظیم رابه درگیري کشانده اندکه میخواهندباصحنه سازي وحادثه آفریني میعادحکومت موقت تحت سرپرستي استادرباني راتمدیدنمایند که روز۲۸ اکتوبرخاتمه یافته است .

خبرنگارمذکورازقول مقامات حزب اسلامي درکابل گفت افرادشوراي نظارتحت فرمان احمدشاه مسعود وملیشه هاي معروف گلم جم مسؤل ایجاد درگیري میباشند .

بعدازآنکه درگیري بین حزب وحدت وحزب اسلامي خاموش شدبه تعقیب آن درگیري دیگري بین دوگروه شیعه حزب وحدت وحرکت اسلامي تحت رهبري آصف محسني صبح امروزباشدت هرچه بیشترآغاز گردیدکه درین درگیري جانبین ازسلاحهاي ثقیله علیه یکدیگر استفاده کردند. درگیري اخیرساعت هاادامه داشته وتفصیلات بیشتري درزمینه ارائه نگردیده است .

دائتلافي حکومت دپلان وزیردرشیددوستم سره وکتل

دلرم ۸ نیټه .

جنرال رشید دوستم سره په یوه پوځي هلیکوپترکي دائتلافي حکومت د پلان وزیر سیدعلي محمد جاوید جوزجان ولایت ته سفر وکړ.

له دغه سفر نه وروسته دوستم وویل چي زه نه یوازي دازبکانو بلکه د ټولو اقلیتونو دحقوقو محافظ یم . دوستم فعلاً دشمال دطبیعي زیرمو څخه دخپلو پوځي تحرکاتو مصارف پوره کوي اودمرکزي حکومت له اجازي اوخبر تیا پرته په خپل سرکارکوي .

دپلان دوزیر دغه سفر چي دافغانستان دشمال څخه ترسره کیږي په خپله دائتلافي حکومت له خوادوستم ته یوبل امتیاز ورکړي دي.

ورورحکمتیاردننګرهار،لغمان اوکونړولایتونوجهادي قوماندانانو ته دوینا په ترڅ کي :

دائتلاف له اخرني ماتي وروسته په هغه کي سخت اختلافات راپیداشوي دي

په تیرپسی

الحمدلله دانصوراوس ختم شوي اوس ټولو ته داثابته شوي چي دغوملیشو دتیرکمونست رژیم نه دپاتي قطعاتو اوددوي دائتلافي اندیوالانو یوبل ته لاسونه ورکړي اوخپل ټول زورځواك ني آزمویلي هغه هم دحزب اسلامي په یومحاذ باندي یوازي زموږ جنوبي محاذباندي هغوي خپل ټول زورآزمویلي دي ځمکني اوهوائي ټول خوالحمدلله ماتي ني خوړلي په شمال کي زموږدوو جبهودهغوقطاردړي وړي اوتارمارکړ دلته په کابل کي زموږشمالي اوغربي محاذونه فعال نشول ، دغربي محاذمجاهدین موونشوتوانیدلي چي دتعرض موقعیت ته ورسیږي آخري ورځ چي داورپند معاهده امضا کیدله صرف په هماغه ورځ هغوي داسي موفقیت ته رسیدلي وو چي دهغه ځاي نه دوي پیاده تعرض اجراکولي شو دشمالي محاذمجاهدین قطارته منتظروو دلاري په اوږدوکي تیاري بي نیولي وو په دي خاطردکابل په عملیاتوکي هغوي و، نشواي کړاي برخه واخلي . اوس الحمدلله

(٦) مخ

دننګرهار اولغمان په ولایتونوکي دجهادي شوراګانو غړودورورحکمتیارسره وکتل

کابل : دلرم ۸ نیټه .

دننګرهار اولغمان ولایتونو جهادي شوراګانوغړو دورور حکمتیار سره وکتل دپیام آزادي دراډیو خبریال دکابل دجنوب چهارآسیاب څخه رپوټ ورکوي چي تیره ورځ دحزب اسلامي افغانستان دننګرهار دشوراغړو دورورحکمتیار سره وکتل په رپوټ کي زیاته شویده چي دننګرهار دجهادي شوراغړو هریو فضل حق مجاهد الجنیر عبدالغفار ،نوراجان ، خیرمحمد قوماندان صدیق دورورحکمتیار سره دروانو حالاتو په باب خبري وکړي همدارازدلغمان ولایت دجهادي شوراغړو استاد عبدالله خان ، دخیبرحوزي آمر اومرستیال او دځینو حوزو مسئولینو هم له ورور حکمتیار سره دحالاتو په اړوند خبري وکړي.

ورورقاضي حسین احمد دیوه هئیت په مشری سودان ته سفرکوی

جنګ راولپنډي .

دجماعت اسلامي امیر محترم قاضي حسین احمد دجماعت اسلامي دیولوړرتبه هیأت په مشري دسودان اسلامي هیواد دلیدني لپاره هغه هیوادته روان دي ، په خبرکي زیاته شوي چي قاضي صاحب به د نومبر دمیاشتي په دویمه نیټه رسمي سفرکوي .

محترم قاضي حسین احمد ته داسلامي هیواد سودان جمهور رئیس محترم عمرالبشیر بلنه ورکړیده.

دبنګله دیش "۱۳۰" پارلماني غړودپارلمان سره مقاطعه وکړه

ډاکه - دلرم ۸ نیټه :

دبنګله دیش په پارلمان کي دحکومت دمخالفو ګوندونو تقریباً ۱۳۰ غړودپارلمان سره مقاطعه کړیده ځکه چي حکومت دجنایتکارانوپرضد دیوه سخت قانون دتصویبولوله پاره ملاتړ‌ترلاسه کول غواړي ټاکل شویده چي پارلمان به پردغه پیشنهادباندي په روانه اونۍ کي غوروکړي . مخالفین وائي چي کیداي شي ددغه قانون څخه دبنګله دیش دواکمن نشنلست ګوند دمخالفینو په مقابل کي

٤مخ

پیوستن برادر قاضي محمدامین وقاد به حزب اسلامي ان شاءالله مقدمهٔ وحدت عملي نیروهاي متعهدات

نمایندګي دفتر حزب اسلامي درمدینهٔ منوره پیوستن برادر مجاهد قاضي محمدامین "وقاد" وهمراهانش را به حزب اسلامي افغانستان ، به مقام امارت ،منسوبین ومجاهدین حزب اسلامي از صمیم قلب خیرمقدم عرض نموده ، ازبارگاه خداوند متعال آرزونموده این اقدام نیک وسیلهٔ خنثي شدن تمام دسایس دشمنان ومقدمهٔ وحدت عملي همه نیروهاي متعهد و هدفمند دریك صف باشد. این اقدام نیك مبین تعهد اوبه تحریك ،مایه اطمینان ماوسرآغاز وحدت مجاهدین است.

کوم قوم چي دجهادلاره پریږدي هغه قوم به ذلیل وي

مولوي شیرآقا

دلرم (۸) مه

دروان کال دلرم دمیاشتي په ۸ مه نیټه دجمعي په مبارکه ورځ دنصرت مینې په جامع جوماټ کي مجاهد ورور مولوي شیرآقا دخطبي نه مخکي وېناوکړه وېي ویل ورونو، دهجرت کلمه یانوم یومبارك نوم دي اودا دپیغمبرانو میراث دي.

دحضرت محمد (ص) ژوند په هجرت کي تیرشو ، هجرت نه وروسته بیاد جهاد مرحله راځي اودجهاد دروازه مدیني منوري ته له هجرت نه وروسته پرانستل شویده هغه وویل کوم قوم چي دهجرت اوجهاد لاره پریږدي هغه قوم ذلیل اودخداي (ج) په لوي قهر اوغضب ګرفتاردي.

مولوي شیرآقا دکابل دائتلافي حکومت اودروانو حالاتو په باب زیاته کړه په کابل کي چي حکومت رامنځ ته شوي دي ته موږ سوچه اسلامي حکومت نشو ویلاي دیو ائتلاف په جوړیدو سره رامنځ ته شوي او سوچه اسلامي بنه نلري هر هغه ځوك چي ددښمن په مخکي

(۷)مخ

رئیس جمهور اوکراین عازم چین گردید

پیکنگ لیوند گرافیك رئیس جمهور اوکراین روز جمعه طي سفر رسمي عازم پیکنگ مرکز کشور چین گردید.

طبق خبر درمیدان هوایي پیکنگ یانگ شانگ چین رئیس جمهور چین از همتاي اوکرایني اش استقبال نمود. رهبر کشور چین به خبرنگاران اظهار امیدواري نمودتا روابط في مابین دوکشور بهبود بیابد ،

ص(۸)

صدراعظم تاجکستان خواستار قواي کمکي از روسیه شد

مسکو ۱۱ عقرب

عبدالمالك عبدالله یانوف صدراعظم تاجکستان ازمسکو تقاضا کردبخاطر جلوگیري از حملات احتمالي طرفداران دولت کمونست سابق نیروهاي جدیدي را به آن شهر اعزام کند.

عبدالله یانوف گفت بامقامات روسیه مشغول گفتگواست تا براي محافظت ازساختمان ها وتاسیسات شهر دوشنبه وجاده هاي داخل وخارج آن شهر نیروي جدیدي رابه آن جمهوري اعزام کند وي گفت براي مذاکرات نهایي درباره جزئیات این امر بزودترین فرصت عازم مسکو خواهد شد . هفته گذشته نیروهاي هوادارکمونست مدت کوتاهي ساختمان ها وتاسیسات مهم شهر دوشنبه را دراشغال خود درآوردند ولي جداً به شکست مواجه شدند طبق اظهارات عبدالله یانوف هواداران کمونست نبي اوف اکنون سرگرم بسیج کردن نیروهاي دیگر هستند.

######

آغازمرحلهٔ سوم معاهدهٔ پشاور ودشواري مرحلهٔ دوم معاهدهٔ جبل السراج

بعدازآنکه بساط اندیشهٔ سخیف کمونیزم به یمن قرباني هاي مجاهدین افغانستان درمهدآن (کرملین) برچیده شدوحزب کمونست شوروي سابقه منحل ودبیرکل آن ازریاست حزب عزل وتمامي کمونیست هاي سابقه دارتحت نظارت ومحاسبهٔ رژیم جدید قرارگرفت ، طبیعي بودکه احزاب خوردوکوچك کمونیستي درسایرکشورها که چون اقماربدورمحوراصلي میچرخیدند، دیگرازحرکت بازماندند ولرزهٔ مرگ ونابودي براندام گردانندگان آنهامستولي گردید. حزب کمونیست خلق افغانستان که بعدها بخاطر فریب واغواي مردم به حزب (وطن) تغیرنام داده بود، نیز ازین تغیرو تحول تکان دهنده درامان نماندوحتي آسیب پذیري بیشتري متوجه این حزب گردیدزیرا کمونیست هاي افغاني درطي چهارده سال جنگ بامجاهدین، هیچ توان ونیرویي براي بقابخودنمي دیدند وتمام نیازمندیهاي آنهاازمشکلات اقتصادي گرفته تا نیازمندي آنهابه حمایت هاي سیاسي ونظامي ازجانب ماسکو تأمین مي شد . سقوط حزب کمونیست درروسیه ومشکلات دست وپاگیر اقتصادي مردم شوروي که دیگرکشوربزرگ به اصطلاح شور ي ها که مدعي سیادت برنیمي از کرهٔ ارض بود، به افسانه مبدل شده بود، ومتعاقب آن بایست تمام اذناب امپراتوري روس یکي پي دیگر ازصحنه محومي گردیدند .

درطول زمستان سال ۱۳۷۰ رژیم کمونیستي نجیب درعرصه بین بقاونابودي جان مي کند . اضطراب وپریشاني رژیم بحدي محسوس بودکه وفادارترین نیروهاي آن اعم ازاعضاي کمیته مرکزي وجنرالان عالیرتبهٔ اردوگژیم که دیگرپشت و پناهي براي خودنمي دیدند ، ناچارراه تفاهم وتماس باگروههاي جهادي رادرپیش گرفتندوهرکي درتلاش آن بودتاباعنوان کردن انگیزه هاي قرابت ، قومیت ولسان و ... خودرابه مجاهدین وگروههاي جهادي نزدیك کندوبدینوسیله بعدازسقوط حکومت نجیب ازادامهٔ حیات خود تضمین بگیرند . مسابقهٔ تسلیمي کمونیست ها به مجاهدین بحدي جدي وسریع بودکه حتي نجیب واطرافیانش که یکعمر روي حکومت ائتلافي وحکومت بیطرف باسران تنظیم هاي جهادي چانه میزدند ، ناگهان تغیر موضع داده باصراحت اعلان کردند که حاضراند

ص(۷)

نن ورځ

وروړګلوېزپېوستون ، دخاورې اودين دغليمانوپرکوربله ټکه

محمدآصف "صميم"

دافغانستان داسلامي حزب له رغاونېزاوتشکيلاتي بهيرسره دمجاهدينوداسلامي اتحادداعيي دمشر ښاغلي قاضي محمدامين وقادډپيوستون اعلان که له يوي خوا دهيواد دجهادي اومبارزاتي تاريخ پوورپاڼلي ځپرکي (باب) دي نوله بله پلوه داريانتيا وړکارځکه نه دي چي ښاغلي وقاددهيوادپه سياسي اومبارزاتي غورځنګ کي يوه پيژندويه څيره ده، داسلامي غورځنګ له همغولومړنيوسنګروالوځني يوناستومان سپاهي دي، اسلامي حزب يي کوردي ، امانت يي دي ، ميراث يي دي، پټ اوویاړيي دي .

دمبارزې په ډګرکي سياسي اوتحليلي اختلاف يوه طبيعي چارده ،دمنزل پرلوريه يون کي هغه اختلاف ته دخداي نازولي استازي « رحمت » ويلي دي ، چي دسپيځلي نيت له تل نه راولاړشوي وي، هغه اختلاف دبصيرت اوتدبرنښه ګڼل کيږي، چي ديوه اولس دسياسي برخليك په ټاکنه کي داغيزمني ونډي دلرلولپاره وي، دسياسي لاروموهالني اومؤقت بيلتون اوجلاکيدنه اوپيوستون دننني سياسي بهير يوورځني دوداومعمول ګرځيدلي دي؛ نوځکه خومونږداسلامي حزب له سياسي اومبارزاتي قافلي سره دښاغلي وقادپيوستون دورځينوسياسي معمولاتو په رڼاکي ديوه نيك فال په توګه استقبالووخوددي ځنګ يي بيادغه پيوستون دهغه چاپرکوردغم ټکه اوتندرګڼو، چي داځوارلس کاله دجهادي ليکو ترمنځ په چاودونواوواټنونوپاييدل اوچي په هغو ناولیو هيلويي هم تسلي ونه شوه ، نودژبي، خپل اوسيمي داختلاف په زهرويي دافغاني ټولني دملي وحدت خواږه زهرجن کړل اوپخپلو دغوناوليواوناوړو کړويي خپل ناولي ضميرونه ،خيري اوبدرنګه مخونه رابرسيره کړل .

داچي اوس په دغه حساس اوبرخليك سازحالت کي داسلامي دولت په نامه داسلام اومسلمانانو پرحيثيت کومي لوبي اومفاسد کيږي ، دهغو دله منځه وړلو اوورسره دمقابلي لپاره پکارده چي دپيوستون دغه نيك اوګټوراقدام همدومره محدودپاتي نه شي، بلکي دټولو هغوساوو اوسپيڅليوجهادي احزابومشرانواواغيزمنوعناصروته پکارده ، چي دهيواد دغه توپاني شوي اوځپځپانده سياسي بيړۍ يوه مطلوب ساحل ته دپورې ايستولپاره مټي راونغاړي ، هيوادني اوملي ګټي له تنظيمي اوګوندي ګټونه غوره وګڼي اودخاورې، دين اواولس ددښمنانومخونه پرخپلو دغوسياسي سربښندنوسره تورکړي .

که په نړيوال سياست کي په تيره زمونږپه ټولنه کي دهيواددملي اوسياسي ګټوپه پام کي نيولو له مخي حتي هغه ګوندونه هم سره نژدي کيږي اوسره يوکيداي شي چي له فکري او ايديولوژيك پلوه سره پربيلابيلولاروروان وي، لري تګ نه دي پکار راځو لرپخپل دي ګړکاله اوهيوادکي دغه بيلګه ووينو، په اصطلا ، څوارلس کلن جهادي ځواکونه دډيرومحدودو سيمه ايزو اوتبعيضي اهدافو دترلاسه کولو لپاره آبادخاوري، دين اواولس د دښمني اوجاني ګليم جمي مليشاسره پي اوشکري نه شول او آياپخپله دغه نامقدسه ملګرتيايي دخپلي مبارزي (!) دا يکي دملګريو رنګه بده نه کړه ؟ آيادغي سپيرمخي ملګرتيااوائتلاف دنړيوالواسلامي غورځنګونو مبارزاتي تشخص اوځانګړتياله پوښتني سره مخ نه کړ؟ اوآيادجهادي تاريخ پرمخ يوتورداغ نه دي ؟

داهغه پوښتني دي چي ځواب يي بي له دي چي پخپله عاملين دخاورې، اولس اودين دښمنان دتاريخي جانيانواومرتکبينوپه توګه ووايي، بل څوك نه شي ځوابولاي

موږپه داسي حال کي چي خپل سياسي اومبارزاتي کاله (اسلامي حزب) ته دقدرمن قاضي محمدامين وقادورستنيدل خپل څوارلس کلن جهادنتيجواوبرياوو په ترلاسه کيدوکي يونيکمرغه اواغيزمن ګام اوددښمنانوپرخولي يومرګاني ګوزارګڼو، خپلوټولوهغو اصيلوجهادي ليکو، مشرانو، اوخورو وورومجاهدينوته دزړه له تله بلنه ورکوو چي همدادپيوستون لاروښي او نوردي پخپلو ځانګړي اوډله بيزبيلتون دددښمنانوليکي نه پياوړي کوي اوهرڅيرته چي وي اوپه هررسمي اواداري دريځ اوموقعيت کي چي وي دخپل جنګ ځپلي او اختلاف ځپلي هيواد اوټولني پرېده ورځ دي وژاړي اودپوه همېشني او اوسپڼيزپيوستون په اعلان سره دي خداي ، رسول اوخپل مسلمان ملت خوښ اوهيله من کړي .

له اوسني بحران نه دافغانستان دنجات لار

• فدامحمد "فايض"

دروسي استعمار په وړاندي زمونږدمؤمن ولس کفر ځپونکي مقاومت داوښوده چي په افغانستان کي دکمونستانو په اقتدار کي پاتي کيدل ناشوني خبره ده .روس پخپله اشتباه پوه شو، پخپله پاليسي کي يي تجديد نظر وکړ اوله افغانستان نه ووت ، خو داخبره بايد هيره نکړو چي روسانو له افغانستان نه که څه هم چي خپله ارتباټي هم وه ، په وتلو له امريکا نه دا امتياز واخست چي دافغانستان کمونستان به حمايه کيږي اوداسلامي حکومت درغاوني مخنيوي به کيږي . البته داکار دامريکي له ارتباوته هم وځکه امريکا اوپه مجموع کي لويديز بلاك نورنو په هره بيه چي کيږي نه پريږدي .چي په نړۍ کي اسلامي حکومت جوړشي . موږ وليدل چي دالجزاير انتخابات که څه هم چي په ديموکراتيکه توګه ترسره شول خوسمدلاسه يي دالجزاير پوځيان دي ته وهڅول چي مداخله وکړي اومسلمانان چي په انتخاباتوکي يي غوڅ اکثريت ګټلي ؤ ديته پرينږدي چي حکومت جوړکړي په همدي توګه دبوسنيا اوکشمير په ويرجنو حالاتو اودتاجکستان په ناآرامو کي دامريکايي استعمار ناولي لاس هيڅکله له پامه نشو غورځولاي.

امريکا اوس داهڅه کوي چي په افغانستان ک خامخا دادوه حالته رامنځته شي :

۱- دافغانستان سياسي واګي دکمونستانو په لاس کي وي .

۲- که داکارممکن نشو چي افغانستان تجزيه شي.

دا اوس چي کمونستانو دببرك اودوستم تر سياسي اوپوځي رهبري لاندي دجنبش ملي اسلامي په نامه کوم تنظيم جوړکړي اودهغي د پياوړتيا لپاره يي خرته لګښتونه کوي ،امريکا او روسيه چي اوس هغه هم دامريکي ترسيوري لاندي حرکت کوي . په دي ښه پوهيږي چي په افغانستان کي دکمونيزم اوکمونست له نامه نه خلك سخته کرکه لري نويي ځکه دکمونستانو پرمخ داسلام نقاب راخپور کړ چي په دي توګه دخلکو حساسيت بيا راونه پاريږي اوله بلي خواځيني غوليدلي مسلمانان هم تردي نامه لاندي پرځان راټول کړي .

مسعود که څه هم چي په يوه اسلامي تنظيم پوري اړه درلوده خودجهاد په اوږدو کي ثابته شوه چي هغه دخپل تنظيم درهبري څه خاصه پروانلري ،بلکي داهڅه يي کوله چي دځان په ګټه له خپل تنظيم نه سياسي ګټه واخلي اوضمناً يي له کمونست حکومت سره هم داسي اړيکي ټينګي کړي وي چي ديوه اوږند په لاسليکولوسره يوه له بل سره څه کار نه درلود . نو دپورتنيو شواهدو په پام کي نيولو سره اوس دمسعود سياسي اوفکري دريځ يوه دسوال وړخبره ده خو په هرحال مسعود که په هرفکر له کمونستانو سره ائتلاف کړي وي نتيجه دا شوه چي دافغانستان سياسي واکمني اوس عملاً دکمونستي ائتلاف په لاس کي ده . دشين ډنډ هوايي ميدان هم د پرچميانو په لاس کي دي او يو مشهور پرچمي يي قوماندان دي اوپه حقيقت کي ددفاع وزارت عملاً دکمونستانو په لاس کي دي.

که څه هم چي کمونستانو خودکمونيزم دنامه دپټولو لپاره يوه اسلامي پوښ ته ضرورت درلود. جمعيت اوشوراي نظاريي ددي کار لپاره استعمال کړ خوځيني کتونکي ددي شپږمياشتنيوهغو جرياناتو په استناد چي دهيواد په شمالي ولايتوکي جريان لري وايي چي ښايي دمسعود او دوستم يارانه هم ترديره ونه چليږي لکه چي ځيني نښاني يي اوس بالکل مشهودي دي.

له يوي خوا ددوستم دخپل تسلط لاندي سيمهٔ کي دشوراي نظار اوجمعيت هيڅ داسي قوماندان پرينښود چي دده له حکم نه يي سرغړونه کوله حتي چي ځيني قوماندانان خويي په چل ونيول اواعدام يي کړل اوله بل پلوه يي شمال ختيځو ولايتوته هم لاس وروغځاوه لکه چي دشيرخان بندرسيمي يي هم ترخپل کنترول لاندي راوستي اوپه دي توګه يي خان دکندز اوتخار ولايتونيولو ته هم چمتوکړ ، چي ددي دوو ولايتوپه نيولو سره بدخشان پرته له تسليمي بله لار نلري . په دي وروستيو ورځو کي مسعود دتخار والي چي په شوراي نظار پوري يي اړه درلوده په دي جرم له خپلي دندي نه ګوښه کړ ، چي له دوستم نه يي کومکونه اخستي وو اودهغه پرځاي يي خپل يوداعتماد وړکس والي وټاکه .

په دي توګه اوس کرار کرار ددوستم اومسعود عزايم رابښکاره کيږي چي دوي په افغانستان کي څه کول غواړي خوداخبره بايد له پامه ونه غورځوو چي دواړه يوبل ته اړدي.

مسعود که په هرفکر اونظر وي خودهغه هدف دادي چي په پاي کي دافغانستان سياسي واکمني په ده تکيه وکړي نوپه دي خاطر مجبور ؤ چي لومړي له جهادي تنظيمونو سره ټکروکړي اوپرچميانو په ځنګ کي ودريږي اوپه کرار کرار دپښتو اوڅوکي په بدل له نورو تنظيمونو نه ځيني کسان اغواکړي اوخپله ډله پري پياوړي کړي لکه چي همدااوس هم ګورو چي انجنير احمدشاه نسبت مسعودته په اصطلاح ، "دويرابرتيزتر " دي اوله کمونستي ائتلاف نه دسرپه بيه دفاع کوي په همدي توګه هغه سيدنورالله چي دمسعود له نامه نه يي کالکي راتلي نن دهغه ځپلي سموي اونصرالله منصور خو يي دي حدته رسولي چي هغه "ازآش کرده کاسه داغتر " خبره ده منصور له مسعود نه هم دائتلاف په خدمت کي ځان ډير خولي کوي حتي چي لږترلږه ديوه عالم په حيث يي هم نه له خدايه ويره وکره اونه له ملت نه شرم اودملت قاتل دوستم ته يي دخالد بن وليد لقب ورکړ. لنده داچي مسعود ځان لپاره ديوي پراخي جبهي دتشکيل په لټه کي دي.

که څه هم چي دايوه خبره بايد هيره نکړو چي په نامقدس کمونستي ائتلاف کي په ديني مذهبي اوسياسي لحاظ غير متجانس ډلي سره رايوځاي شوي دي لکه جمعيت (جمعيت - شوراي نظار) دشيعه ګانو مختلفي ډلي چي په سياسي لحاظ بيل بيل سياسي تشکيلات اومواقف لري ، کيانيان چي حتي پخپله شيعه ګان يي کافر بولي ، پرچم ، شعله جاويد ، ستم ملي اوګروه کار چي وروستي ډله له خلق ګوند نه منشعب شوي وه اوسيداکرام پيګير اودوستم يي مهم کسان دي .

داطبيعي خبره ده چي داغيرمتجانسي ډلي تر پايه يوځاي نشي چليداي که مسعود په هرفکر اونظروي خو چي کله په دي پوه شو چي دجهادي تنظيمونو خطر منتفي شوي ښايي دځان په ګټه کوم اقدام وکړي خولکه چي څرګنديږي هغوي به هم مسعود دي ته پرينږدي چي دهغوي پرخلاف کوم اقدام وکړاي شي ځکه اوس هوايي ځواك ټول له دوستم اوپرچميانو سره ؤ لکه چي دهرات اوشيندند په مسأله کي يي هم په اسماعيل دامثلي ده چي هوايي ډګر به له دوي سره وي.

خير داخوطبيعي خبره ده چي دمختلفو فکري اوسياسي دريځونو لرونکي ترپايه په يوه لارنشي تللي غير اسلامي ډلي خو پرځاي پريږده چي حتي اسلامي ډلي هم ترکومه ځايه چي ددوي په ګټو پوري اړه لري سره يوځاي ځي اوبيا پکي بيلوالي راځي نودنامقدس ائتلاف شريدل يوه طبيعي خبره ده ددوي په منځ کي به پخپله داسي مسايل رامنځته کيږي چي ددوي لاري سره جلا کړي ځکه دوي په داسي بنيادسره نه دي راټول شوي چي سره يوځاي يي وساتلاي شي.

اوسني سياسي جريانات داښيي چي دافغانستان اوسني بحران هغوتنظيمونو ته سترګي پرلاردي چي دبي تفاوتي په دنياکي چکري وهي نه يي دهيواد په موجودوستونزو زړه سوزي ،نه يي دا دوينو په سيلاب څه پرواشته چي څوك ، مري ، څوک تبي کيږي ، دچاکور لوټيږي دچا د تورسر وړه عفت تيري کيږي . زماپه فکر داډير ستر مسؤوليت دي هم د دنيا اوهم دآخرت،

نوربيا

خاتمهٔ مرحلهٔ دوم وآغازمرحلهٔ سوم معاهدهٔ پشاور

محمدرحيم

معاهده پشاوږامروزتقريباً وردزبان همه کساني است که به شکلي ازاشکال دررابطه بااوضاع سياسي وفعلي کشورما ابراز نظر مينمايند .باآنکه طرح مذکورناقص وايجادګرمشکلات فعلي است .

وحتي طراح آن نيز به خامي ها ونواقص آن بصورت کامل وواضح اعتراف کرده واشتراك عملش رادر اجراى اين طرح روي مجبوريت وانمودکرده است ولي باوجود آن همه ګان نظريه مشکلات ونابساماني سياسي که فعلاً درکشور جريان دارد به اين امرمتفق اندکه بخاطرجلوګيري از بروز مشکلات مزيد بايد اين طرح که درنتيجه تصميم ګيري عجولانه ترتيب شده قدم به قدم تطبيق شود ونبايد به عمر اداره وکارګردانان دوره ماقبل منحيث اداره سياسي دوره مابعدتداوم بخشيده شود چنانچه مرحله اول اين معاهده باکناررفتن آغاي صبغت الله مجددي وتسليم نمودن قدرت به آغاي رباني مطابق به متن معاهده صورت عملي بخود ګرفت.

واکنون خاتمه مرحله دوم اين معاهده نيز ايجاب ميکند که وارد شدن به مرحله سومي بايد کاملاً مسالمت آميز وبدون کشمکش باشد ولي آغاز مرحله سوم اين معاهده که از لحاظ زماني مدت يك ونيم سال ميباشد بامرحله دومي کاملاً فرق دارد به اين معني که درمعاهده پشاور براي مراحل اول ودوم مسؤلين امورمشخص بودند ولي درمرحله سومي قيادت آينده نامعلوم وارتباط به فيصله شوراي بزرګي دارد که مي بايد آغاي رباني در دوران حکمروايي اش به تشکيل چنين شورايي درنتيجه توافق کامل همه تنظيم هاي جهادي مي پرداخت ولي ادارهٔ ائتلافي کابل دراين ارتباط عمداً از سهل انګاري کارګرفت يك فيصد هم دراين رابطه کارنکرد واين بدان جهت که شايد به اين فکر باشد که باختم حکمروايي او شوراي قيادي به نفع وي فيصله خواهدکردوآغاي رباني رابراي دوردوم نيز تائيد خواهد کرد اماګردهمايي رهبران چهار تنظيم بزرګ جهادي کشور به اين خواب وخيال آغاي رباني خاتمه بخشيدزيرا هرچار رهبر محترم به اين امرکاملاً متفق اندکه آغاي رباني يکروزهم اضافه تر ازموعدش برسرقدرت باقي مانده نمي تواند.

هدف ديګر ادارهٔ ائتلافي کابل اينست که وقتي شوراي بزرګي تشکيل نشود درشوراي قيادي برسرحکومت آينده بحث ومناقشه صورت ګيرد شايد بتواند باايجاد معضلات جديدي به عمرائتلاف طول ببخشد وطوري استدلال کنندکه تا تشکيل حکومت وزعامت آينده به نسبت خلاي قدرت حکومت فعلي برسرکاربماند وبالاخره به شکلي ازاشکال به موجوديت خويش وجه قانوني ببخشند ولي فکر ميکنيم که ازتمام اين دسيسه ها نتيجه مثبت بدست نخواهندآورد .

به همين خاطر ادارهٔ ائتلافي کابل صرف نظرازاينکه ديګر چاره يي جز تسليمي قدرت به شوراي قيادي ندارد ديوانه واردرصدد دايرشدن شوراي شده که درآن هواداران خودش رادرلباس وپوشش نمايندګان مردم جادهد ومانند لويه جرګه هاي زمان ظاهر ، داؤد ،ببرك ونجيب وغيره نتيجه دلخواهي از آن بدست آورد اصلاً جاي تعجب دراين است که ادارهٔ ائتلافي کابل در چهارماه زمامداري اش نتوانست چنين شورايي رابرپاکند در چند روز چطور ممکن است آياميخواهند به ملت مسلمان افغانستان فريب بدهند ومانند ادارهٔ ائتلافي که باکمونيست هاي خون آشام ساخته اند وبيشرمانه اسم آنرا دولت اسلامي ګذاشته اند به اين شوراي نام نهادشان نيز عنوان اسلامي ببخشند ابداً ملت مسلمان افغانستان ومجاهدين واقعي رافريب داده نخواهندتوانست اين دست اندرکاران حکومت ائتلافي کابل اندکه خودرافريب مي دهند ملت مسلمان افغانستان وآنانکه واقعاً اقامه حکومت اسلامي رادرافغانستان مي خواهندبه ماهيت آنان کاملاً واقف اند وميدانندکه يکتعداد مجاهدنما ها بازيرپاګذاشتن خون شهداء ونداي ايمان وضميرشان باقاتلان اين ملت مجاهد واوباشان حرفوي صرف بخاطر بدست آوردن نعمات پليد مادي دست وحدت داده اند وقاتلين يك ونيم مليون شهيد ګلګون کفن کشورماراميخواهند دوباره برسراين ملت حاکم سازند. ودرعوض سپاهيان فداکار اسلام را ازصحنه سياسي واجتماعي افغانستان نابود سازند امايقين کامل داريم که خداوند (ج) کارساز است ودرهرحالت دشوارلشکريان راهش رایاري کرده وايشان رابرلشکر کفروشرپيروز ساخته است وچنان پيروزي نصيب آنان ساخته است که در تصور وخيال انساني وجود نداشته است.

وماحقيقت اين پيروزي رادرشکست روس ها وپارچه پارچه شدن امپراطوري آنان وسرنګوني رژيم ګذشته درکابل کاملاً مشاهده کرديم

اکنون هم بشرط آنکه ماصرف درعملکردخويش رضاي ذات پاك باري تعالي راهدف اصلي خويش قراردهيم وان شا ءالله حتماً پيروزي بي مانندي به استقبال ماخواهدشتافت واکنون تقريباً مقدمات همچو پيروزي کاملاً مشهوداست.

درچنين شرايط که عمر ادارهٔ ائتلافي کابل به پايان رسيده و کشور وملت مابسوي سرنوشت نامعلومي راهپيمايي دارد چشم همه ملت وهمه مجاهدان واقعي بطرف رهبران محترم جهادي است آنان اګر واقعاً ادعاي رهبري تنظيم هاي جهادي رادارند وخودرا دربرابر ملت مسلمان افغانستان وتشکيل حکومت واقعاً اسلامي وخلع قدرت وخلع سلاح کامل کمونيست ها بخاطر نجات اين ملت مسلمان براي هميش ازشرکمونست ها متعهد ميدانند شرايط کاملاً سازګاراست به اين معني که ايجاد شوري درشرايط فعلي نسبت عدم کارآيي ادارهٔ ائتلافي تقريباً ناممکن شده وناګزيربايد استاد رباني قدرت رابه شوراي قيادي بسپارد اګر رهبران محترم واقعاً خودرابه تاسيس حکومت کاملاً اسلامي متعهد ميدانندوميخواهند آرمان شهدا وملت مسلمان ماتحقق بيابد ميتوانند بااکثريت آراء زمام امورراازکف دست ائتلاف ګران بګيرند وبدين ترتيب زعامت وحکومت آينده افغانستان راتشکيل دهند که درآن صورت ميتوانند به بسيارآساني چه ازلحاظ سياسي وچه ازلحاظ نظامي کمونست ها ومليشه ها رابراي هميش ازصحنه کناربزنند وکارنامه جاويدان وهميشګي را که درتاريخ نسل هاي بعدي به آن افتخار خواهندکرد انجام دهند.

ولي اګر طوري که فعلاً ديده مي شود برخي ها به اصطلاح کفش خودرا يکجا وکلاه خودرا جاي ديګري بګذارند وبه‌اصطلاح در صدد بدست آوردن منافع مادي باشند ومصلحت پسندي شخصي شان رابر مصلحت و خيرملت ترجيح دهند درلفظ وعمل شان صادق نباشند صراحتاً ميتوان ګفت که خيانت جبران ناپذيري رامرتکب خواهندشد که قابل بخشش نخواهدبود . لحظات فعلي اوضاع سياسي کشور ماهر افغان مسلمان ومومن را درآزمون بزرګي قرارداده است خصوصاً قيادت هاي تنظيم ها راکه بايد متحدانه باحزب اسلامي داخل عمل شوند .

حاکميت کمونيست ها رابراي دايم خاتمه ببخشند . درچنين شرايطيکه تشکيل زعامت وحکومت آينده ناګزيربه شوراي قيادي سپرده خواهد شد طبعاً که براي رهبران محترم امتحان بزرګي خواهد بود که آنان واقعاً بخاطر پيروزي کامل انقلاب وتشکيل حکومت اسلامي کارخواهندکردوياخداي نخواسته باعث ادامهٔ حکومت ائتلافي خواهند شد . آزمون بس بزرګي است وپرده از روي حقايق کاملاً برداشته خواهدشد وبه همه ملت مسلمان آشکار خواهد ګشت که چه کساني درلفظ وعمل به اين ملت وحاکميت دين الهي درافغانستان جدوجهد ميکنند وچه کساني نمي کنند بلي اګر خوب تر بګوئيم اين ګز واين ميدان معلوم شودکه کي ها طرفدارحاکميت اسلام درافغانستان اند وکي ها طرفدار بدست آوردن منفعت وعظمت دنيوي ،

اين مرحله بسيارخطيراست مي بايد همه رهبران محترم استفاده ازعضويت شان درشوراي قيادي به حکومت ائتلافي خاتمه ببخشند زيرا ازاين امر وازاين حقيقت بجز يکي دوتن ساير رهبران محترم انکارندارند که اختيارات وصلاحيت ها درحکومت فعلي بدست کمونست ها است.

بحثي پيرامون اهل حل وعقد

ذبیح الله "قریشي" قسمت ۵

جرگه دیگري که تاحدي روي نتیجه آن میتوان حساب کرد جرگه منعقده دراکتوبر۱۷٤۷ که منجربه انتخاب احمدشاه ابدالي بحیث پادشاه افغانستان گردید، میباشد . وآنهم درقندهارمنعقدیافت ودرنتیجه کشمکش میان اقوام زورمندقندهارکه هریك هواي پادشاهي داشتندبه نتیجه رسید، به احمدشاه که ازعشیره ضعیف قندهار بود، دراثرمیانجگري صابرشاه کابلي اتفاق آمد، جریان رانویسنده افغانستان درمسیرتاریخ به این مفهوم مي نگارد :

ایران بعدازمرگ نادرشاه خراساني ، درگرداب هرج ومرج داخلي وملوك الطوایفي قرار گرفت که بعدازکشته شدن وي اختلال دراردوي بزرگ اوپدیدآمد، لشکرافغاني که مرکب ازچهارهزارغلجائي واحمدخان ابدالي بصوب قندهار حرکت کردند .

نورمحمدخان به خان ها ي غلجائي وازبك وابدالي وهزاره وبلوچ وتاجیك پیشنهادکردکه جرگه ئي تشکیل وپادشاهي انتخاب شود .

جرگه درعمارت " مزارشیرسرخ " درداخل قلعه نظامي نادرآبادمنعقدیافت ومدت نه روزدوام کرد درین جلسه طولاني اتفاق آرامکن نگردید، زیراهرخان مقتدرطالب سلطنت بودازقبیل نورمحمدخان غلجائي، محبت خان پوپلزائي ، موسي خان اسحق زائي ، نصرالله خان نورزائي وغیره) که همدیگرراردمیکردند، تنهاکسیکه درین جرگه راجع بخودحرف نمیزداحمدخان ابدالي بودزیراعشیره اوسدوزائي، ازحیث کمیت خوردترازسایرعشایربود... ولي اختلافات خان هاي غلجائي وابدالي که همدیگررانفي میکردند، خلائي بوجود آوردکه بایست پرمیشد پس درروزنهم جرگه ، طرفین یکنفر عضوجرگه راحکم تعین کردند که هرکه را اوبه سلطنت انتخاب کند، همه بوي بیعت نماید .

شخص حکم یکمردروحاني بودکه به هیچ قبیله ، حتي قندهار، تعلقي نداشت اوهمان صابرشاه نام کابلي پسرمتصوف استاد" لایخوار " ازاهل کابل بودکه طبقات مختلف قندهاربه اوارادت واعتماد داشتند . این صوفي سیاستمدار برخاست واحمد ابدالي را به حیث پادشاه معرفي کردوهم خوشه گندمي رادرعوض تاج به کلاه اونصب نمودبزرگان قوم خواستندیانخواستند، مجبوربه بیعت وتصدیق سلطنت این مردجوان گردیدند .

این است که احمدخان ابدالي به عنوان احمدشاه به پادشاهي کشوراعلان شد .

ازکلام فوق چنین استنباط مي گرددکه عنان این جرگه نیزبدست سران دوقبیله قومي غلجائي وابدالي قرارداشت که هریك به طرف خود میکشیدولي باوجودآنهم یك جرگه یي که واقعاً سران اقوام درآن اشتراك داشت بحساب مي آید، چه رسدبه آنکه آنرامنحیث یك عنعنه قومي ومورد تاییدمردم کشوربخوانیم .

چه به این حقیقت تلخ تاریخي اعتراف بنمائیم ویانه جرگه هاآرمان مردم مارا علاوه ازآنکه برآورده نکرده است بعدازگذشت زمان درخط استعمارکشانیده شده وبحیث مرجع مدافع ازحقوق مستکبران استبداد گرواستعمارگران خارجي، براي فریب مردم درآمدکه درفوق ازآنهانامبرده شدبه این اساس لویه جرگه هابکلي ماهیت خویش راازدست داده به آلهٔ دست حکومتداران مستبدقرارگرفت وسران حکومت هرکسي راکه مطابق میل خویش درمي یافتند بحیث نماینده فلان قوم وحوزه به جرگه راه مي دادند حقیقت این است که لویه جرگه منحیث پرده تزویرجلوچشم مردم کشیده مي شد وچند قلدربنام مردم سرنوشت مردم را دردست مي گرفت . ولي جرگه هاي محلي کوچك درمیان قبایل واقوام براي حل منازعات شان وجود داشت که البته باآغاز انقلاب اسلامي افغانستان وسهمگیري اکثریت ملت درین جهادمقدس جرگه هاي قومي وقبایلي جاي خویش رابه شوراهاي جهادي خالي کردوخود ازصفحه تاریخ جهاد یکسره کناررفت واعضاي جرگه هاي قومي یادرصف جهادگران مجاهد تنظیم شدندویادرکناررژیم کمونیستي ایستادند ، اقوام ، که زماني تحت فرمان سران قبایل واقوام جبراً ویااختیاراً قرارداشتند،ازین دایره بیرون آمده ، درسرنوشت خویش وملت خویش ازاؤنه ابراز نظر واتخاذموقف نموده که مي نمایندوبه این اساس اصل شوراي اسلامي بعدازقرنهادرتاریخ افغانستان زنده شد .

بناءً دوستاني که ازبرگزاري لویه جرگه داد میزنند نمي دانیم افراداین جرگه راازکجاپیدامر وازجمع کدام مردم انتخاب میدارند! درحالیکه سیستم خانخاني وسرداري درتاریخ افغانستان براي همیش پایان یافت وجایش را براي مردم مجاهد کشورخالي نموده است .

باوجود آن، این هم لویه جرگه هاي که دوستان درانتظارش هستندوحل مشکل ملت رادرتنفیذ حکم آن جستجومیدارند که درین جاماقضاوت رابه دوستان لویه جرگه خواه وخوانندگان عزیزمیگذاریم که براي پایان بخشیدن مشکلات وترقي افغانستان کدام یکي : لویه جرگه راکه گردانندگان آن یك مشت قدرتخواه وزورگوبوده که درخدمت استعمارقرارداشته اند ترجیح میدهندویاشوراي اسلامي (اهل حل وعقد)که به راي ونظرمردم انتخاب گردند وبازاهل این شوري بدون نظرخواهي ازمردم ، صلاحیت انتخاب خلیفه (رئیس جمهور) راندارند ، واگرامیرازطرف اعضاي شوري کاندید گردد بدون بیعت مردم امیرشرعي وقانوني دانسته نمي شود بناءً درهرصورت قدرت اختیارخلیفه (رئیس) واهل شوري بدست مردم مي باشدکه به این اساس سهمگیري مردم دراختیارخلیفه واعضاي شوري ازطریق انتخابات به اصل (وامرهم شوري بینهم) را تحقق مي بخشد امادرمورداینکه حکومت فعلي کابل طریق اختیاررئیس جمهورحکومت موقت راازطریق اهل حل وعقد برگزیده وتاکجاعملي خواهدشد، بحثي است قبل ازوقت ولي آنچه از شواهد برمي آیداختیاراین اسم که صبغه شرعي دارد درحال حاضرکه کمونستهانقش اساسي وتعین کننده درنظام دارند پرده دیگري ازتزویروفریب دانسته مي شودکه غماض اقناع مردم و اسلامي جلوه دادن حکومت بکارگماشته شده است چه درروزهاي اول که صحبت ازین اجتماع میرفت ، به گردانندگان نظام فعلي درکابل وشخص رئیس جمهورموقت ازبرگزاري رئیس مجلس به وقت وزمان آن باربارااطمینان داده بود اکنون که ازمدت * ریاست استادچندروزي بیشترنمانده است ، برگزاري چنین جلسه (حل وعقد) باموا صفاتي که دُرفوق اساس نظریات علما برشمردیم دورازامکان به نظرمي رسد . جزاینکه سردمداران سابق افرادرا به تعداد دلخواه خویش ومطابق خواست خودجمع نموده وبااین تفاوت که نامش رااهل حل وعقدبگذارند وآنچه مي خواهند بنام شوري فیصله نمایند درغیراین صورت طریق اصولي انتخاب این اعضا (حل وعقد) که به راي ونظرمردم باشد درظرف این مدت ناممکن است . بخصوص قید نفوس راکه باید ازسي هزارویاهژده ویانزده هزاریك نماینده درشوري تعین گردد گنجانیده اند که تحقیق این امرتقاضاي حداقل یك سال را دارد . زیراتاکنون نفوس شماري دقیق درافغانستان صورت نگرفته و درحدودبیش از پنج ملیون نفردریشت مرزهاویادرکشورهاي دوردست زندگي دارند وهمچنان اختصاص دادن ۱۵ فیصد اعضابه شوراي قیادي و پنج فیصد اختیاراعضابه رئیس جمهورموقت که آنهم ازطریق یك قراردادبه این منصب منصوب شده است مشکل دیگري رابه مشکلات افزوده وسداین مسیر میگردد.

باوجوداین هم اگررژیم قادربه سروي نفوس گردد ، که ممکن نیست چون ناخبین بهراُي ونظرمردم ازطریق انتخابات منتخب نمي شوند، بازهم به این اعضاي منتصب شده ، اطلاق اصطلاح اهل حل وعقددور ازحقیقت مي باشد .

بناءً گفته مي توانیم که این افراد به هراسم ورسم که جمع شوندقادربه حل قضایاي افغانستان نگردیده وگره راازمشکل ملت بازکرده نمي توانند، بهتراین است که استادرباني باپوره شدن مدتش ، اقتدار(!) رابه شوراي رهبري گذاشته وشوراي رهبري تاانتخابات آزاد واستفتامردمي ونوع نظام که حلال تمام مشکلات کشوربستگي به آن دارد، قدرت رادردست گرفته راه اصولي که منتهي به رفع کشمکش هاي داخلي وطرد افراد رژیم گذشته ازسرنوشت مردم گردد ، بپویند وتاآن وقت یك رئیس باصلاحیت راکه باهمه میانهٔ خوب داشته باشدومنافع شخصي واقتدار رابرمنافع ملت ترجیح ندهدازمیان خود انتخاب نمایندتاراه غرض انتخابات عامه وتشکیل شوري واقعاً اسلامي هموارشده ازکیان ، شعور، هویت اسلامي افغانستان ودست آوردهاي جهاد پاسداري گردد .

له حزب سره دمحترم وقاد دانضمام اعلان ثابته کړه چې دحزب منسوبين په هرځاي کي حزب ته وفاداردي

غلام حضرت "شاکر"

دلرم میاشتي په لومړي نیته دپیام آزادي راديو پدي حساسوشپو ورځوکي چي دافغانستان په داخلي اموروکي دنړیوال کفرجارحانه مداخلي دافغانستان دخواخوږوکتلو ترمنځ دمخلصانه یووالي غوښتنه کوي، اعلان وکړ چي دافغانستان داسلامي حزب پخواني مرستیال اودداعیه الحاد اسلامي مشر محترم قاضي محمدامین وقاد له حکمتیار سره له خبرواترو وروسته پرون په جلال آبادکي یوځل بیا له اسلامي حزب سره دپیوستون اعلان وکړ. راديو زیاته کړه چي پدي هکله محترم قاضي صیب وقاد کوم شرط هم ندي ایښي اوشرطونو له وراندیزپرته یي له اسلامي حزب سره د الحاق خبره اظهارکړه . یقیناً داداسي زیري دي چي دافغانستان په اسلام خوږمني پرګني اودنړیوال اسلامي تحریکونو خوږمنان یي له هغه مهاله چي دمحترم قاضي صیب محمد امین وقاد له سیوري نه ظاهراً په حزب کي دحزب منسوبین محروم شو و داوریدلو په انتظار وو، دالحکه چي حزب اسلامي هیواد شموله اودجهان دمسلمانانو دامید ونو اودارمانونو دتحقق حزب دي چي دمحترم حکمتیارصیب نه علاوه دقاضي صیب وقاد غونډي شخصیتونه یي باید په ترکیب کي دتل لپاره شامل اوپه ټینګتا به اواستحکام کي خپل فعال رول اوستر رسالت ترسره کي ، ځومره چي اسلامي حزب غښتلي اومتحد وي همدومره به یي دملت په خواخوږانو کي نفوذ اومحبوبیت اضافه کیږي اوهمدومره به وررسره دمسلمانانودمقدسوآرمانونو دتحقق شیبي رالنډیږي ، سیکاره خبره ده که داصف پخپلوکي له ضدضدیو ، حسادتونو اوبي تحایه مفارقتونو نه بري اوبه خپلو کي متحد وسائل شي ، دانقلاب په اوږدو کي کراو ځپلي وګړي به چي آرمانونه یي سپیځلي دي ولي له خپلو لیکو دځینو ناخوالیو په وجه منزوي شوي ، دخپلو ستړواهدافو دترسره کیدو په هیله چي طبعاً په یو قوي صف کي بي احتمالات زیات وي ، بیرته دتحریك په چورلیځ راوګرځي اودنهیلي له توپاني څپو به دامیدواري په ساحل کي دروحي ارامتیا ساؤ اخلي .

مونږدخپلو ارمانونو د رغاونې اودنړي په ارته غیږکي دعالمي استضعاف دمظلومانه فریاد دغبرګون اوپدي رابطه د مثبت کردار دتعمیل او رول اداکولو لپاره دي ته مبرم ضرورت لرو چي په یو آواز ، یوه خوله اویو زړه دخالصانه وحدت مظاهره وکړو، یوځل داخپل لوي دکړاوونو په سهلو جوړشوي کورله کورکو اوتجزیي نه وژغورو بیا دهغه نه وروسته دمنتشرو پراګنده ولي مخلصوکتلو اوبرګنو پهراغونډو لو اویوځای کولو کي خپلي صادقانه هڅي ګړندي کړو، ځومره چي موثر غښتلي یویه همدي تناسب به مودمسلمانانو ترمنځ داتحاد غوښتني هڅي مشري وي داځکه چي دنهیلي څپرو وهلي وګړي به بي لدي چي زمونږ لخوا دعوت شي داصف دامید ونوصف ګټي اوخپله به دخپلو هیلو درغون په اسره دي لورته ګرایش کوي او پدي صف به تمسك . به یوکورکي دکور کو جوړول او پداسي صورت کي داتحا دغړاوچتول ځکه کارګر نه واقع کیږي چي داتحاد غوښتونکو داتحاد غوښتني په خبره دخلکو دباور دراپیداکیدو چانس کم وي اوله خلکو سره داسي سوال راپیداکیږي چي داغږ « داتحا دغوښتني غږ » ولي دیوه قوي اولوي چوکاټ نه ونه شي ؟ دلوي چوکاټ نه دیووالي په غراوچتولو ځکه دخلکو باور راتلاي شي چي دیووالي غوښتونکو له خپل منځي وحدت اوټینګتیا نه به بي ډاډ حاصل وي اودهغوي له اړخه به داتحاد غوښتني غږله خپل مافي ضمیر نه ناشي ګڼي چي طبیعي ده غبرګون به بي به لبیك کیږي.

زما باور دي چي دافغانستان داصیلو پرګنوترمنځ دیووالي آرمانجن به تول هغه عناصر وي چي په افغانستان کي یوسوچه اسلامي له پردیو سره غیر منسلك نظام بي دزړه غوښتنه وي . دادوبرافسوس خبره ده چي داستعماري حلقودمداخلي په نتیجه کي دافغانستان اسلامي تحریك چي دیولوي کورحیثیت بی لاره په کورکو وویشل شو په څو ډلو اوپه متعددو قیادتونو بي سرشو، اودابه دکوم اسلام غوښتونکي مسلمان ولوربي چي دیوداسي تحریك چي په معاصرجهان کي بي نظیرنه لیدل کیږي منسوبین دي په بیلا بیلو ډلو اوپه متعددو زعماوو تقسیم اولا چي پخپلوکي په ضد ضد یو اخته شي . دمسلمانانو آرزو خوداده چي داسي حالت رامنځته شي چي دحزب ،جمعیت ،اتحاد ،حرکت اوټولو ډلو مخلصان سره یوځاي شي اودګن شمیر احزابو مسئله په یوغښتلي جمعیت عوض کړي، خوداهله ممکن ده چي دیوداسي سرتاسري اندماجي وحدت تمهیدي مراحل ترسره شي ، پدي اړوند ترټولو لومړي خبره چي بویه په پام کي ونیوله شي داده چي داتحاد تري اوخواخوږي داعیون دهغه تحریك سره دانضمام مظاهره وکړي به کوم کي چي داتحاد غوښتني عناصردټولو نوروپه نسبت زیات وي اودټولني چورلټ اکثریت بي ترشاولاړ وي . ددوي انضمام له هغو سره ددي باعث کیږي چي همدا سنګرنور هم مظبوط شي اوځومره چي دمخلصو داعیونو دوحدت غوښتني خبره اوپدي اړه له قوي زاویي نه تبارز په عامو وګړو مثبت اغیز غورځولي شي دومره بي د ضعف په صورت کي اودقوت دنشتوالي په حالت کي دموفقیت چانس کم او دوحدت غوښتني خبره کم اغیزه اودمثبتي پایلي لرونکي نه وي، ځکه چي دیوغښتلي ګوند له څواك نه په استفادي سره خوپه مخلصو ، مؤثرو ورونوکي دخپل مثبت پلان دتعمیل متره پیدا کیږي او دوي کولاي شي چي خپلو بنوپلانونو اونظریاتو ته چي بوهم دمخلصانو دیو والي نظر دي دعمل جامه ورواغوندي ،پدي صورت کي به بي دنیکو پلانونو دپلي کیدو په اړوند دوګړویو لوي بهیرترشاولاړوي ،خوکه په یوازي ځوك دهرځومره مثبت پلان لرونکي وي چي دتعمیل شیمه بي نه وي هیڅ ممکن نده چي پدي هکله دبریاوو ورمخه شي لکه چي وايي : له یوه لاسه ټك نه خیژي . دځواك دنشتوالي په صورت کي خو فقط همدومره ممکن ده چي داتحاد غوښتني اودي ته ورته مسایل یوازي په ګنتارکي خلاصه شي او دګردو مثبتو پلانونو آرمان دزړه په دالان کي ناغوړیدلي پاتي شي.

دوام لري

نامه های وارده

محمدسرورقیام

به همه مسلمانان رنجدیده وملت مظلوم افغانستان هویداست که حزب اسلامي ازبدوتاسیس خود تاحال میخواهد که درافغانستان حکومت صددرصداسلامي به میان آید. و اهداف حزب اسلامي نیزبرپایه وبنیاداسلام استوارمیباشد . حزب اسلامي درهمان مرحلهٔ نخستین سازماندهي عهدبست که تمام اعضا وارکانش دراجتماع همچون یك الگوي اسلامي تبارزکنند، وبخاطرکسب رضاي پرورده‌گاروبپاده ساختن حکومت اسلامي ازهیچ نوع فداکاري وجان نثاري دریغ نورزند . لذاازهمان اوائل تاسیس این نهضت اسلامي تاکنون حزب مورد تائید اکثریت قاطع ملت افغان وسایرمسلمانان جهان قرارگرفته است . اعضاء وارکان حزب به مرور زمان درتمام نقاط کشوربه کثرت دیده میشودوهمه آنهادرتطبیق مرام حزب سعي بلیغ بخرج میدهند .

دراوایل انقلا ب اسلامي افغانستان که حزب غرض سرنگوني رژیم کمونستي درولایات کشور قیامهاي مسلحانه بي رابرپاکرد، اکثرمسلمانان دلسوزبه جهاد ، باحزب کمك هاي بشري ومالي نموده ابزارواسلحه خویش را برایش عرضه داشتند زمانیکه روسهاي وحشي به افغانستان تجاوزکردند وجهادبرفردفرد ملت در ین مرحله حساس ستراتیژیکي فرض قرارگرفت .

آرزوي ملت وتمام مسلمانان این بودکه باحزب همنواگردیده درمقابل بیگانگان وتجاوزگران داخل پیکارشوند وقتیکه درسراسرافغانستان لشکرکشي هاي تجاوزگران وغلامان حلقه بگوش شان که باهزارها عراده تانك هاي غول پیکر محاربوي وطیارات عصري مجهز صورت میگرفت همین حزب اسلامي بودکه درتمام نقاط کشوردربرابر آنهامقابله نموده وبه نیروي ایمان وعزم متین آنهارابه شکست فضیحت بارمواجه مي ساخت .

بالاخره همین حزب اسلامي بودکه درشکست روسهاي وحشي ودرنده صفت نقش فعالي رابازي کرد .

گرچه بعض گروه هاي مجاهدنما وگروهك هاي دست پرورده اجانب چندین باربا روسها پیمان واعلان آتش بس کردند وبعضي هاجهادرادرنیمه راه گذاشتند ودورمیزمذاکره بادشمنان اسلام نشستند وگفتندکه حل مسئله افغانستان ازطریق سیاسي ومذاکره صورت گیرد .

فقط حزب اسلامي بودکه دربرابرفشارهاي داخلي وخارجي وتوطئه هاي گوناگون دشمنان اسلام مقاومت نموده وازعزم راسخ ومتین خویش هرگزبه عقب نرفت .

درطول جهاد برحق مسلمانان افغانستان، حزب اسلامي دربرابر توطئه هاودسایس شرق وغرب از هوشیاري وبیداري کارگرفته وتمام توطئه هاي شان رادرنطفه خنثي نمود. استکبارغرب که درراس ان امریکاي جهانخوارقراردارد هرگزنمیخواهد که حزب اسلامي درافغانستان بقدرت برسدویك حکومت اسلامي به میان آید، امریکاهمیشه درطول سالیان متمادي دربرابرفتوحات وپیشروي هاي حزب اسلامي سدواقع گردیده تلاش میورزدکه حزب درحالت انزوا باقي بماند .

امریکااین راخوب درك نموده که حزب اسلامي بشکل خاص درقسمت نابودي کمونیزم وشکست روسها درافغانستان نقش فعال وعمده داشت واگرحزب درافغانستان بقدرت برسد آینده نظام غرب نیز به خطرتحریك هاي اسلامي مواجه خواهد گردید، لذا غرب نمیخواهد که حزب بقدرت برسد .

اکنون که جهاداسلامي درمرحله پیروزي قرارگرفته ودرافغانستان جهاد اسلامي نقش عمده دارد امریکاي جنایتکارمي خواهد بامداخله درامور داخلي افغانها حسب دلخواه حکومت بسازدولي حزب اسلامي مي خواهد یك حکومت منتخب اسلامي رابسازد تاباشدکه ملت افغان درزیرسایه آن بزندگي سعادت مندوآرام امرارحیات نمایند، بدین ملحوظ هدف اساسي ،حزب اسلامي این بوده که ثمره جهاد۱٤ ساله افغانهابه هدرنرود وآرمان وارثین شهدا، معلولین ، معیوبین وآوارگان یتیمان وبیوه زنان برآورده شود .

####

برادرمحترم عبدالله شریعتي !

نامه تان بدفترروزنامه رسید، باشماهم نظریم که دراداره‌ٔ ائتلافي کابل قدرت اصلي دردست جنرالان کمونست میباشد واستادرباني ومسعود بدون استیذان آنهاکاري راانجام داده نمي توانند . (اداره)

###

گشت وگذارزنان درکوچه وبازار

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

قراریکه به تماماً برادران معلوم است دراین اواخر به اساس ظلم ،تشدد بي عزتي و بي عفتي ایکه ازطرف ملیشاي بدنام پست فطرت وخون آشام گلم جم درشهر زیباي کابل بوقوع پیوست یکتعداد فامیل هابه دیارهجرت پیوستند که توسط برادران مهاجرسابقه تاحدامکان کمك ومعاونت شدند !

امابدبختانه بعضي فامیل هاقادربه کنترول متعلقات خودنیستند روزانه دیده میشوند گروپ گروپ دوشیزه هاي افغاني بدون داشتن یکنفرمردبه هرطرف کوچه بازارحتي پارك هایکه شایسته یك زن افغان نیست گشت وگذار مینماید که این عمل شان دوراززناکت اسلامي واجتماعي میباشد ضمناً باعث لکه دار نمودن حیثیت تماماً افغان هامیباشد خصوصاً مهاجرین شریف پشاور .

ازتماماً خواهران جدي تقاضا میگردد تاازگشت وگذاربي جاوبي مورد جلوگیري نمایند وازحجاب شرعي اسلامي استفاده درست نمایند درغیرآن منتظرعواقب اعمال نادرست وغیرشرعي خودباشند .

همچنان ازتمام تنظیم هاي جهادي تقاضادارم که مانند حزب اسلامي در فعال کردن مکاتب ومدارس اقدام نمایند تاجلواین بي بندوباري هاگرفته شود . ازطرف عبدالمجید "لطیفي"

برادرمحترم لطیفي !

نامه تان رانشرکردیم ، قبلاً نیزنامه هاي زیادي بهمین محتوي به آدرس مامواصلت کردکه بعض آنرانشرنموده ایم . امیدکه فامیل هاي محترم درمحیط هجرت متوجه حرکات شان شوند . (اداره)

###

برادرعزیز، محمدشکور"شمشاد" باشنده کچه ګړي ، السلام علیکم !

